احسان‌الله اریزی
۲۰۲۳/۰۸/۰۶

# نړیوالي ټولنې

## ۷۰ برخه

**هغه ټولنې چې ځانګړې واکونه لرې**

**۲۲ – د صنعتي او تکنالوژیکي څېړنو د مراکزو نړیوال بنسټ The World Association of Industrial and Technological Research Organization (WAITRO):**

WAITRO د کال ۱۹۷۰ په اکتوبر کې، د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې د ګڼ شمېر دولتي او غیردولتي ټولنو او د صنعتي څېړنو د ۹۶ کارپوهانو له خوا جوړ شو. WAITRO اوس په ۷۴ هېوادونو کې ۱۶۰ غړي لري، په ټوله نړۍ کې له ۵۰۰ نړیوالو ټولنو او موسساتو سره همکاري لري او د نړۍ له تخصصی بنسټونو څخه شمیرل کیږی.

اهداف:

- د تلپاته پراختیا له پاره د ټولنو د عملي هڅو پیاوړتیا،
- د صنعتي او تکنالوژیکي پراختیا او څېړنو له پاره، د ټولنو تر منځ د ګډ کار هڅول،
- د تکنالوژیکي پوهې او څېړنو د نتایجو د لېږد آسانتیا او هڅول،
- د تکنالوژیکي مدیریت او څېړنو په برخه کې د تجاربو د شریکولو رواجول،
- د تکنالوژیکي او څېړنیزو ټولنو د مدیریت د کچې لوړوالی،
- د نویو بازارونو د موندلو او فرصتونو له پاره د نړیوالو همکاریو د مناسبو فرصتونو موندل او رواجول.

جوړښت: WAITRO یوه عمومي ټولنه، یوه اجرائیه کمیټه او یوه دارالانشا لري. د WAITRO دارالانشا د دنمارک په تکنالوژیک دفتر کې ځای په ځای ده. WAITRO همداراز د خپلو کارډلو (د ژوند چاپېریال تکنالوژي، د کمکیو او منځنیو شرکتونو د پراختیا تکنالوژي، انرژي او اطلاعات) د همغږۍ او ګډ کار یو مرکز هم لري.

غړیتوب: WAITRO اوس په ۷۰ هېوادونو کې ۱۶۰ غړي (د صنعتي تکنالوژي او د څېړنو د پیاوړتیا ټولنې) لري. دا غړي کولای شي چې د دې غړیتوب په مرسته خپلمنځي ګډ کار پیاوړی کړي، تکنالوژي ولېږدوي او خپلې سوداګریزه اړیکي پیاوړې او هر اړخیزه کړي.[2]

**۲۳ -- د فوټبال نړیوال فدراسیون The Federation International de Football Association (FIFA)**

د شلمې پېړۍ په لومړیو کلونو کې، فوټبال دومره نړیوال شهرت وموند چې د چارو د سمون او نظم له پاره، د یوه نړیوال فدراسیون د جوړېدو اړتیا ډېره شوه. له همدې امله د فوټبال مخکښو هېوادونو لکه بلجیم، دنمارک، فرانسه، هالند، اسپانیا، سویډن او سویزرلند، په پاریس کې غونډه وکړه او د فوټبال د نړیوال فدراسیون یا FIFA په جوړېدو سلا شول. FIFA د لندن د کال ۱۹۰۸ په اولمپیک کې د فوټبال لومړنی تورنمنټ جوړ کړ. که څه هم چې په دې سیالیو کې،یو شمېر مسلکي او نومیالیو لوبډلو برخه نه وه اخیستې، بیا هم د کار ترتیب او تنظیم او د خلکو هر کلی ډېر بریالی و.

اهداف:

- د فوټبال لوبې پراختیا: FIFA هڅه کوي چې د ځوانانو او پرمختیایي پروګرامونو په مرسته د یووالي، زده کړو، کلتور او بشري ارزښتونو له لارې،فوټبال په نړیواله کچه پراخه کړي. د همدې کار له پاره په خلکو او ټولنو پانګونه کوي او وایي چې فوټبال د ژوند د زده کړې ښوونځی دی.
- د فوټبال نړیوال کېدل: FIFA د نړۍ په ۲۰۸ هېوادونو او سیمو کې دفترونه لري او هڅه کوي چې د همدې لارې فوټبال تر هره کوره ورسوي.
- د ښې راتلونکي جوړول: FIFA د فوټبال ځواکمتیا او هرکلی، د ټولنو د پراختیا او بشري حقونو د ساتنې د یوې وسیلې په توګه کاروي او د هغو سلګونو نوښتونو د ځواکمنولو له لارې، د سولې، روغتیا، ټولنیز یووالي، ښوونې او روزنې او ورته برخو کې کار کوي او خپلې چارې د سویتزرلند د قوانینو له مخې مخ ته وړي[3].

جوړښت: FIFA پېچلې ځانګړی اداري جوړښت لري چې دلته به لږ تشریح شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کانګرس: کانګرس د دې ټولني لومړنی تصمیم نیوونکی ارګان، د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ دی چې په کال کې یوځل، او د اړتیا په وخت کېځ انګړی غونډې جوړوي. کانګرس واک لري چې په خپل جوړښت او تګلارو کې بدلون راولي، د ټولني مشر، سرمنشي او نور اجراییوي غړي وټاکي، د FIFA د کارونو، راتلونکو پلانونو، نړیوالو لوبو او بودجې په برخه کې کار وکړي او د اداري غړو د ټاکلو د انتخاباتو وختونه وټاکي.
اجراییه کمېټه: اجراییه کمېټه د کانګرس په چوکاټ کې، د FIFA اساسي پرېکړې کوي. د FIFA  مشر په عین حال کې د دې اجراییه کمېټې مشري هم کوي.
اداري کمېټه:  اداري کمېټه یو مشر، مرستیالان او ۱۵ غړي لري چې د فوټبال له هر نړیوال جام وروسته، د کانګرس له خوا ټاکل کېږي. دا کمېټه په کال کې دوه ځله د فوټبال د پرمختګونو، راتلونکو لوبو او جامونو او احتمالي ستونزو په هکله خبرې او پرېکړې کوي.
د FIFA د تګلارې له مخې، دا کمېټه د سکرټر جنرال د ټاکلو او لرې کولو حق لري او همداراز د FIFA نور پلاوي هم ټاکي.
کمېټې: د FIFA سرمنشي خپلې چارې، د ۲۵ کمېټو په مرسته په مخ بیایي.لکه اجراییه کمېټه، مالي کمېټه، د نړیوال کپ د تنظیم کمېټه، د ښځو د فوټبال کمېټه، د تخنیک او پرمختګ کمېټه، د لوبغارو کمېټه، د اخلاقو کمېټه، د لوبغالو او امنیت کمېټه، د طبي معایناتو او پلټنو کمېټه.
د سرمنشي په څنګ کې دوه نور دفترونه هم شته چې یو په حقوقي مسایلو او بل د چارو په تنظیم بوخت دي.
د FIFA دا ۲۵ کمېټې، هره یوه په خپله برخه کې کار کوي؛ خو هره پرېکړه یې باید د اجراییه کمېټې له خوا تایید او تصویب شي.
تګلارې:  FIFA  د خپلو کارونو د تنظیم او کار له پاره، ځانګړې قوانین او مقررات لري چې د کانګرس لخوا تصویب کېږي. د غړو هېوادونو دریمه برخه اکثریت په قوانینو کې تعدیل یا بدلون راوستی شي.
مالي سرچینې:  FIFA  خپله کلنی بودجه، له نړیوالو سوداګریزو شرکتونو سره د تړونونو د لارې برابروي. د لوبو د خپراوي حق په نړیوالو رسنیو خرڅوي، د لوبو په کتونکو تکتونه پلورې، په لوبغالو کې د لویو شرکتونو د اعلانونو په خپراوي پیسې اخلي، د لوبغاړو په سپورتي جامو باندې د لویو شرکتونو نښې لګوي او په دې توګه خپله د اړتیا وړ بودجه برابروي .[4]
فعالیتونه:  FIFA  په آسیا، افریقا، منځنی امریکا، شمالي امریکا، اروپا او یو شمېر نورو سیمو کې د فوټبال فدراسیونونه لري.  FIFA د ټولو نړیوالو رسمي سیالیو د تنظیم او څار دنده په غاړه لري او په هرو څلورو کلونو کې د فوټبال نړیوالې لوبې جوړوي چې په سلګونو ملیونه مینه وال او ډېر لوړ ارځښت لري.
مقر: د FIFA مرکزي دفتر په زوریخ (سویتزرلند) کې دی. انګلیسي، فرانسوي، اسپانوي او جرمني یې رسمي ژبې دي[5].

**۲۴- د کرکټ نړیواله شورىInternational Cricket Council (ICC)**

د کرکټ نړیواله شورى یا  ICC ، څه باندې یوه پېړی مخکې (۱۹۰۹)، د استرالیا، برتانیا او جنوبي افریقا له خوا د کرکټ شاهي کنفرانس په نامه جوړه شوه. دا نوم په کال ۱۹۶۵ کې د کرکټ په نړیوال کنفرانس او په ۱۹۸۹ کې د کرکټ نړیواله شورى شو.
په پیل کې د ICC د غړو شمېر د ګوتو په شمار و؛ خو د وخت په تېرېدو او د کرکټ لوبې په عامېدو سره، دا شمېر دومره ډېر شو چې اوس څه باندې ۱۰۰ هېوادونه په مستقیم یا نامستقیم ډول د دې شورى غړیتوب لري.
اهداف:د ICC د جوړېدو اصلي هدف دا دی چې دا لوبه په نړیواله کچه وده او پراختیا ومومي.
جوړښت:
شورى  :د کرکټ چارې تنظیموي. بودجه برابروي، له مستقیمو او نامستقیمو غړو هېوادونو سره مرسته کوي او نړیوال فعالیت لري.
ICC  درې ډوله غړي لري:
- مستقیم بشپړ غړي،
- نامستقیم غړي،
- ونډه وال غړي.

په مستقیمو غړو کې د کرکټ هغه ۱۰ پیاوړې لوبدلې راځي چې د پنځه ورځنیو (تست) سیالیو امتیاز لري، لکه هند، استرالیا، جنوبي افریقا، برتانیا، سریلانکا، پاکستان، ویست اندیز، نوي زیلند، بنګله دیش او زیمبابوې. په نامستقیمو غړو کې ۳۰ ټیمونه راځي، چې د افغانستان، سکاټلند، ایرلند، هالند او کینیا ټیمونه یې په سر کې دي.
د ICC د ونډه والو غړو شمېر سلګونو ته رسي چې نړیواله شورى مني او کرکټ د قوانینو په رڼا کې په مخ ځي.
اجراییه بورډ: دا بورډ د ICC له اساسي قانون سره سم، د شورى د اهدافو، پرېکړو او نورو چارو د اجرا او د اداري او عملیاتي چارو د تنظیم او ترتیب دنده په غاړه لري.
د اجراییه بورډ غړي دوه ډوله دي: لومړي هغه غړي چې د تست سیالیو د امتیاز لرونکو ۱۰ هېوادونو له خوا معرفي کېږي؛ خو نامستقیم او ونډه وال هېوادونو یوازې درې – درې کسان د خپلو استازو په توګه بورډ ته پېژني، دا خلک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

دوه کاله کار کوي. دلته دا خبره د يادولو وړ ده چې د پرېکړو واک او عملي کول يوازې له مستقيمو غړو هېوادونو سره وي.
ICC دا کمېټې لري: کرکټ، مالي، بازارموندنه، حکومتولي، د لوبو اخلاق، رسنۍ، اداري فساد او په لوبو کې د درغليو د څېړلو کمېټه.
سيمه ييزه څانګې: ICC څو سيمه ييز دفترونه لري چې د کرکټ د ودې، پراختيا او تنظيم له پاره کار کوي.

- د افريقايي هېوادونو د کرکټ ټولنه،
- د کرکټ اسيايي شورى،
- د امريکايي هېوادونو د کرکټ ټولنه،
- د اروپا کرکټ شورى.

اداري څانګه: د ICC اداري څانګه د کارکوونکو په ټاکلو کې خپلواکه ده. اوس – اوس د دې ټولنې مرکزي دفتر په دوبی (عربي متحده امارات) کې دی چې شا او خوا ۷۰ مامورين لری. ICC په نورو دفاترو کې همدا شمېر مامورين لري چې د کرکټ د ودې او تنظيم مسووليت په غاړه لري.
مالي سرچينې: ICC خپله کلنۍ بودجه، له نړيوالو سوداګريزو شرکتونو سره د بېلابېلو تړونونو له لارې لاس ته راوړي. د مثال په توګه د لوبو د خپراوي حق په رسنيو او نړيوالو کمپنيو خرڅوي، د لوبو ټکټونه پلوري، په لوبغالو او د لوبغاړو په کاليو کې د نړيوالو شرکتونو اعلانونه او نښې ږدي او په دې توګه خپله بودجه برابروي. فلای امارات، ريلاينس، هونډا، پيپسي، سونا موبايل، ال جي، ام تی ان او داسې نور شرکتونه د ICC لوی مالي ملاتړي دي .[6]
افغانستان او ICC : په کال ۱۸۳۹ کې چې برتانوي يرغلګر سرتيري، د افغانستان په کابل، کندهار او ننګرهار کې دېره وو، ځينو برتانوي سرتېرو او د هغوی افغاني ملګرو په کابل کې کرکټ کړی دی، پرته له دې په افغانستان کې کرکټ نه و؛ خو ګاونډيو هېوادونو پاکستان او هندوستان ته د سلګونو زره افغانانو مهاجرت او سفر، هېواد ته د کرکټ د راتګ لاره اواره کړه. اوس کرکټ په افغانستان کې د فوټبال په شانې ټولمنلې لوبه ده چې په مليونونه مينه وال او په سلګونو زوني، ولايتي او سيمه ييز ټيمونه لري.
په افغانستان کې د کرکټ لومړنۍ لوبې په ډېرو ابتدايي امکاناتو او شرايطو، د مجاهدينو او طالبانو د واکمنيو په کلونو کې پيل شوې؛ خو د حامد کرزي او نوې دور په راتګ سره، کرکټ د نورو سپورتي ټيمونو په شان، ډېر پرمختګ وکړ او ژر يې د افغانستان جنډه د نړۍ د کرکټ په سترو ستديومونو کې جګه کړه[7].
په کال ۱۹۹۵ کې د افغانستان کرکټ فدراسيون جوړ شو، په ۲۰۰۱ کې افغانستان د ICC د نامستقيمو هېوادونو غړيتوب ترلاسه کړ. په کال ۲۰۰۳ کې د افغانستان کرکټ ملي ټيم، د پاکستان په دوو تورنمنټونو کې برخه واخسته او د پاکستان په وړاندې يې لومړنی بريا خپله کړه. په ۲۰۰۴ کې دا ټيم د جنوبي اسيا د لسو ټيمونو په لوبو کې شپږم شو. په ۲۰۰۶ کې افغانستان د منځني ختيځ په لوبو کې د نايب اتل دريځ ته ورسېد. په همدې کال د افغانستان ملي ټيم د برتانيا په لوبو کې له ۷ څخه ۶ لوبې وګټلې او د ماليزيا په آسيايي لوبو کې درېيم نمبر شو. په کال ۲۰۰۷ کې دې ټيم د کويټ په آسيايي لوبو کې لومړی ځل په يو نړيوال تورنمنټ کې اتلولي وګټله چې د سپورتي لوبو په ډګر کې د افغانستان له پاره ستره بريا وه.
ICC هر کال افغانستان ته د کرکټ د پراختيا له پاره، د آسيا کرکټ شورى له لارې ۵ مليون $ ورکوي، چې نوي ډګرونه پرې جوړ کړي، لوبغاړو ته استانتياوې برابرې شي، ښځينه کرکټ ټيمونه جوړ شی او د افغانستان د کرکټ بورډ د کارکوونکو لګښتونه پوره شي.
افغانستان په کال ۲۰۰۸ کې، کرکټ بورډ جوړ کړ چې د کرکټ د ودې او پراختيا له پاره کار کوي. له دې مخکې د افغانستان د ملي المپيک کمېټې په چوکاټ کې د کرکټ فدراسيون دا کار کاوه.
اوس د افغانستان د کرکټ ملي ټيم د نړۍ په لسو لومړيو ټيمونو کې شمار دی او په تېره يو لسيزه کې يې هېواد ته بيساري برياليتوبونه ډالی کړي دي. د افغانستان له ۱۹ کلنو څخه د کم عمره ځوانانو ټيم هم ښه پرمختګ کوي.

---

[1] google.com/ search

[2] سازمان پژوهش های علمي و صنعتي ايران، وېبپاڼه

[3] www.fifa.com

[4] نړيوال سازمانونه، محمد جعفرهاند، ص ۲۲۷-۲۲۳

[5] www.fifa.com

[6] نړيوال سازمانونه، محمد جعفرهاند، ص ۲۳۲-۲۲۹

[7] en.wikipedia.org/wiki_afghanistan_cricket_board


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ